# مسیر

ورځپانه

نوی لید، نوی مزل

www.maseerdaily.af

یکشنبه د ۱۳۹۹ د کب ۱۷مه | د ۲۰۲۱ د مارچ اوومه | ۶۹۱یمه گڼه


## د ملي شورا پرانیسته او سوله؛

### ولسمشر: پردی طرحې ناکامې دي، اساسي قانون او ولسواک نظام مو سره کرښه ده



۳

سرپرستي؛ هغه غیر قانوني دود چې باید ختم کړل شي

۲ مخ

آتش سوزی در گمرک مرزی اسلام قلعه؛ عوامل و پیامدها

۲ مخ

د امریکایانو لخوا د حکومت د نوي موډل طرحه

۳ مخ

رحماني:

## حکومت دې په ادارو کې سرپرستي پای ته ورسوي

د ولسي جرگې رییس میر رحمان رحماني یو ځل بیا پر حکومت غږ کړی، چې په ادارو کې دې د سرپرستۍ چارو ته د پای ټکی کېږدي.
نوموړي تېره ورځ د ولسي جرگې د اوولسمې تقنیني دورې د پرانیستې په مراسمو کې د خبرو پر مهال ویلي چې حکومت باید هر څه ژر د پاتې وزارتونو لپاره نوي وزیران د باور رایې اخیستو لپاره دغې جرگې ته ورمعرفي کړي.
رحماني دغه راز له طالبانو غوښتي، چې تاوتریخوالی کم کړي او د سولې ټینگښت لپاره نرمښت وښیي. هغه ویلي چې طالبان باید له هغو طرحو لاس پر سر شي، چې اجرایي جنبه نه لري.

رحماني د خپلو خبرو پر دوام ویلي، چې که طالبان غواړي د افغانستان په تاریخ کې په عزت یاد شي، نو باید تاوتریخوالی کم او تلپاتې اوربند ته غاړه کېږدي.
په دولتي ادارو کې د سرپرستۍ د پای ته رسېدو په تړاو د ولسي جرگې رییس داسې مهال دغه څرگندونې کوي، چې د نوي حکومت له راتگ راهیسې لا هم ځینې حکومتي اداري او وزارتونه د سرپرستانو له خوا اداره کېږي. که څه هم ولسمشر غني بیا بیا ژمنه کړې چې په ټولو ادارو او وزارتونو کې به د سرپرستۍ چاره پای رسوي، خو دغه ژمنې لا هم نه دي پوره شوې.

اروپايي ټولنه: په افغانستان کې روان تاوتریخوالی او هدفي وژنې د جدي اندېښنې وړ دي



۵ مخ

پوهنتون

۴ مخ

## هریوا د لوړو زده کړو موسسه

هریوا د لوړو زده کړو موسسې د محصلینو د ستونزو د حل په موخه، مجهز کتابتون، کمپیوټرلب او د عملي درسونو لپاره تالارونه جوړ کړي دي.



## کرنې ریاست: روان کال په جوزجان کې ۳۲۲ کرنیزې پروژې گټې اخیستنې ته سپارل شوې



د جوزجان ولایت د کرنې او مالدارۍ ریاست وایي، چې په دغه ولایت کې د ۱۵۳.۴ میلیونه افغانیو په لگښت د کرنیزو محصولاتو مدیریت د ۳۲۲ پروژو چارې بشپړې او گټې اخیستنې ته سپارل شوې دي.
د یاد ریاست د چارواکو په وینا، په دغو پروژو کې ۱۵۰ ممیزخونې، د پیازو ۱۵۰ زېرمتونونه، د کچالو ۲۰ زېرمتونونه او دغه راز د تازه مېوو دوې سړې خونې شاملې دي.
په ورته مهال کرنې وزارت وايي چې د هېواد په گڼو ولایتونو کې یې روان کال په زرگونو ممیزخونې او د پیازو او کچالو د ساتنې زېرمتونونه جوړ کړي دي. د یاد وزارت ویاند اکبر رستمي وايي چې په ۱۴۰۰ مالي کال کې د کرنې سکتور د پراختیا او ودې په موخه زرگونه نورې پروژې هم په پلان کې لري چې د ۱۴۰۰ مالي کال تر پایه به پلې او گټې اخیستنې ته وسپارل شي.

## نعیم: در دیدار با خلیلزاد روی تطبیق کامل توافق‌نامه دوحه گفت‌وگو کردیم



سخنگوی دفتر سیاسی طالبان در قطر از دیدار زلمی خلیل‌زاد، نماینده ویژه امریکا در امور صلح افغانستان با ملا عبدالغنی برادر، معاون سیاسی و عبدالحکیم حقانی، رییس هیأت مذاکره‌کننده گروه طالبان خبر داده است.
محمد نعیم، سخنگوی دفتر سیاسی طالبان در قطر در رشته توییت‌هایی نوشت که این دیدار شام روز جمعه انجام شده است. طبق اعلام وردک، دو طرف در این نشست تعهد خود را به توافق‌نامه دوحه ابزار کردند.
هم‌چنان دو طرف به گفته محمد نعیم، روی «تطبیق کامل» توافق‌نامه دوحه گفت‌وگو کرده‌اند. محمد نعیم می‌گوید که در دیدار رهبران گروه طالبان با زلمی خلیل‌زاد درباره وضعیت جاری افغانستان و سرعت و موثریت روند کنون مذاکرات بین‌الافغانی نیز بحث شده است.
زلمی خلیل‌زاد پیش از این با هیأت مذاکره‌کننده دولت افغانستان در دوحه نیز دیدار کرده بود. خلیل‌زاد از کابل به دوحه رفت.  در جریان اقامت خلیل‌زاد در کابل گزارش شد که طرحی را به دولت و شماری از سیاسیون افغانستان سپرده است.
در این طرح، نقشه راه ایجاد یک حکومت انتقالی پیش‌بینی شده است. این طرح که در ۱۰ صفحه به زبان انگلیسی ترتیب شده است، چندین سناریوی احتمالی را برای ایجاد حکومتی زیر نام «دولت انتقالی صلح» پیش‌بینی می کند.




## سرلیکنه

# سرپرستي؛ هغه غیر قانوني دود چې باید ختم کړل شي

پرون د ملي شورا د اوولسمې تقنیني دورې دربیم کال پیل شو. د ملي شورا د دې دورې پرانیسته ولسمشر غني وکړه او په دې پرانیسته کې یې خپله وینا هم واوروله. د ولسي جرگې رییس میر رحمان رحماني د ښه راغلاست د پیغام پر مهال له ولسمشر غني وغوښتل چې د سرپرستۍ دود ختم کړي او ژر تر ژره د هغو کسانو پر ځای دوی ته د باور رایې اخیستلو لپاره وزیران او رییسان ورمعرفي کړي، چې تر دې دمه د سرپرستانو له لوري اداره کېږي.
ولسمشر هم په دې غونډه کې د میر رحمان رحماني د خبرو هر کلی وکړ او ژمنه یې وکړه چې ژر تر ژره به د سرپرستانو پر ځای د باور رایې اخیستلو لپاره د کابینې غړي ولسي جرگې ته ور معرفي کوي.
سره له دې چې روان کال ولسي جرگې د افغان حکومت د کابینې اکثریت غړو ته د تایید رایه ورکړه، خو لا هم له بده مرغه ځینې اداري او وزیران د سرپرستانو له لوري اداره کېږي. په دې کې ډېرى یې هغه اداري دي، چې دوی ته نومول شوو وزیرانو او رییسانو د باور رایه وا نه اخیسته او یا هم د باور رایې تر اخیستلو وروسته یې وزیران لرې کړل شوي او پر ځای یې سرپرستان مقرر شوي دي. د ولسمشر په اوسنۍ کابینه کې د اطلاعاتو او فرهنگ وزارت او ښځو چارو وزارت لپاره نومول شوي وزیران په دې بریالي نه شول چې د باور رایه واخلي او همدا راز د افغانستان بانک مشر هم د هغو کسانو په لېست کې دی، چې د ولسي جرگې غړو د باور رایه نه ده ورکړې.
بلخوا د مالیې پخوانی وزیر او د روغتیا پخوانی وزیر بیا هغه کسان وو چې له ولسي جرگې یې د باور رایه اخیستې وه، خو لا یې د کار میاشت نه وه پوره شوې، چې ولسمشر له دندې گوښه کړل او پر ځای یې سرپرستان وگومارل.
نه یوازې په کابینه کې، بلکې د افغانستان په اکثریت ادارو کې د ولایتونو او مرستیالانو په کچه د سرپرستۍ دود لا هم پر خپل ځای دی او دې مسئلې نه یوازې دا چې پر حکومت د خلکو باور کم کړی، بلکې د چارو په ترسره کولو کې یې هم گڼې ستونزې جوړې کړې دي. دې مسئلې فساد او کم‌کارۍ ته هم زمینه برابره کړې ده. خلک دا نیوکه کوي چې ولسمشر ډېر وخت پر ځینو ادارو خپلې کړۍ ته نږدې کسان گوماري، چې دوی ډېر وخت له ولسي جرگې د باور رایه نه شي اخیستلی، نو له همدې امله که دوی رایه اخلي او یا نه، نو خپلې دندې ته د ولسمشر غني په خوښه ادامه ورکوي. بلخوا د افغانستان قوانینو د سرپرستۍ لپاره وخت او نېټه مشخص کړې او تر هغې ور هاخوا د سرپرست په توگه د یوه شخص د کار دوام قانوني اړخ نه لري.
که حکومت په رښتیا غواړي، چې شفافیت رامنځ ته کړي، نو ښه به وي چې ژر تر ژره د سرپرستۍ دود ختم کړي، د کابینې غړي دې ولسي جرگې ته ور معرفي کړي او اجازه دې ورکړي چې ولسي جرگه رښتیني افغانانو، خدمتگارو او داسې کسانو ته رایه ورکړي، چې په دې حساسو شرایطو کې د ملت درد دوا کړي.

# آتش سوزی در گمرک مرزی اسلام قلعه ؛ عوامل و پیامدها

نویسنده: مرکز مطالعات استراتیژیک و منطقوی

روز شنبه ۲۵ دلو ۱۳۹۹ هـ.ش انفجار یک تانکر حامل مواد سوخت در گذرگاه مرزی میان اسلام قلعه افغانستان و دوغان ایران سبب بروز آتش سوزی بزرگ و انفجار مهیبی گردید، که به نابودی حدود ۵۰۰ موتر بزرگ حمل نقل و تانکرهای حامل مواد سوخت انجامید و خساراتی بالغ بر صدها میلیون دالر به بار آورد. این آتش سوزی ساعت‌ها ادامه یافت، که و زیان های مالی و جانی در پی داشت مسوولان گفته اند که ۱۷ تن زخمی شده اند، برای مهار آتش کشور همسایه ایران نیز ازطریق هوا و زمین کمک‌های خود را شریک نمود، مقامات محلی ولایت هرات در نخستین ساعات این آتش سوزی اعلام کردند که امکانات مورد نیاز برای مهار این آتش سوزی در این ولایت وجود ندارد. گذرگاه اسلام قلعه در حدود ۱۲۰ کلیومتر غرب هرات واقع شده ویک مسیر اصلی ترانزیتی بین افغانستان و ایران است.

**گستردگی حادثه**

اتاق تجارت افغانستان می گوید: خسارات ناشی از این رویداد به تاجران به مراتب بیشتر از آنچه در اوایل گزارش داده شد میباشد. خان جان الکوزی، از مسولان اتاق تجارت و سرمایه گذاری کشور گفت که صدها میلیون دالر کالای تجاران افغان در آتش سوزی گمرک اسلام قلعه نابود و یک هزار موتر در آتش سوخته است. آقای الکوزی همچنان به تاریخ ۳۰ دلو روز پنج‌شنبه در یک نشست خبری در ولایت هرات بیان نمود که آتش سوزی در اسلام قلعه باعث گردید که ۲۵ درصد اجناس به خصوص مواد سوخت در سراسر افغانستان گرانتر شود، در کنار آن خساره را که بخش خصوصی با این آتش سوزی مقابل شده اند، بیشتر از حد تصور میباشد.
مقام‌های محلی ولایت هرات در نخستین ساعات این آتش سوزی اعلام کردند که امکانات مورد نیاز برای مهار این آتش سوزی در این ولایت وجود ندارد و به همین دلیل خواستار کمک از ایران شده اند.
یونس قاضی زاده، رئیس اتاق تجارت و سرمایه گذاری هرات این حادثه را یک «سونامی» یاد کرد و در سخنرانی خود بیان کرد که دولت موضوع اسلام قلعه را بصورت سطحی محاسبه نمود در حالیکه در چند ماه آینده حکومت افغانستان از خرابی هایی که این آتش سوزی برپا کرده به صورت دقیق خواهد فهمید، به گفته او کسانی که اموال و موترهای شان در آتش سوخت، سال‌ها زحمت کشیده بودند تا قادر به پیدا کردن آن شدند.
رئیس جمهوری اسلامی افغانستان هیئت همه شمول به رهبری معین عواید و گمرکات وزارت مالیه، عضویت معین وزارت صنعت و تجارت، معاون اداره لوی ځارنوالی، رئیس اتاق تجارت و سرمایه گذاری، نماینده دفتر شورای امنیت ملی، نماینده ریاست عمومی امنیت ملی، نماینده وزارت امور داخله، رئیس اتاق صنعتکاران، رئیس عمومی گمرکات، رئیس اتحادیه ترانسپورت و والی هرات موظف ساخته است تا در مورد چگونگی وقوع حادثه، ارزیابی خسارات آن تحقیق نموده راپورشان را به مقام ریاست دولت تقدیم نمایند.

**عوامل وقوع آتش سوزی**

ریاست اتاق تجارت و سرمایه گذاری هرات طی گزارشی، عوامل عمده وقوع حادثهء آتش سوزی را طور ذیل معرفی میکند:
نبود خطوط متفاوت برای اموال سریع الفساد، نفت، گاز و سایر اموال و موترهای حامل مسافرین.
اعتصاب موتر داران به علت اخذ محصول ترانسپورتی در داخل گمرک اسلام قلعه.
مشکلات تخنیکی در فعالیت ترازوهای دیجیتلی.
عدم موجود تسهیلات و تدابیر پیشگیرانه از حوادث چون آتش سوزی.
آمدن هیئت‌ها در هر ماه و هر هفته جهت بررسی امور ولایت گمرک که متاسفانه هیچ نوع نتیجه و موثریت بخاطر بهبود امور در قبال نداشته است.
کندکاری ونبود پرسونل ورزیده و آگاه در اداره TCRC، به دلیل مشکلات که در این اداره موجود است یک تانکر الی ۲۰ روز هم در صحن گمرک متوقف میگردد.
نبود ظرفیت کاری و مجهز نبودن گمرک اسلام قلعه با وسایل و تجهیزات برای ارایه خدمات گمرکی.
یونس قاضی زاده، رئیس اتاق تجارت و سرمایگذاری هرات میگوید: عامل عمده وقوع این حادثه در قدم اول اجرای طرزالعمل جدید توسط وزارت ترانسپورت بوده که تانکرها و موترهای بزرگ حامل بار را به مدت دو هفته در گمرک نگهداشته است.

**خسارات وارده:**

سخنگوی ریاست صحت عامه ولایت هرات می گوید که در این رویداد ۱۷ تن زخم برداشته اند، به نقل از مسئولان اتاق تجارت و صنایع و بندر اسلام قلعه در هرات، در این آتش سوزی در حدود ۵۰۰ تانکر نفت و گاز بصورت مهیب سوخته اند و بر بنیاد بررسی‌های ابتدایی، ۵۰۰ میلیون دالر خساره به بازرگانان وارد شده است، در میان این ها حدود ۹۰ تانکر مواد سوختی در اثر شدت انفجار حین حریق ناپدید شده تقریباً ۴۳۵ موتر حامل اقلام مختلف النوع شامل تایر، پرزه‌جات موتر و موتر سایکل، تکه، مواد ساختمانی، مواد خوراکی و میوه جات تازه بوده که مبالغ هنگفتی را احتوا می نماید، حریق شده است؛ اما بازهم نیاز به تحقیق بیشتر در مورد می باشد.
همچنان قابل یادآوری است، که مقدار اموال تجارتی متاسفانه توسط اشخاص نامعلوم در داخل گمرک اسلام قلعه حین آتش سوزی و یک تعداد در مسیر شاهراه اسلام قلعه، زمان برگشت به طرف شهر هرات غارت شده و یک تعداد موترها همراه با اموال آن لادرک می باشد و طی تماس‌های تیلفونی اشخاص مجهول الهویه از یک تعداد تاجران بخاطر تحویل دهی اموال شان پول تقاضا می نمایند.
از این نظر می تواند، گفت حدود ۵۰۰ موتر بزرگ در مکان حادثه حریق شده اند و صدها موتر بزرگ دیگر حامل حمل نقل مواد به گونه‌های دیگر خساره‌مند گردیده اند.
سید عبدالواحد قتالی، والی هرات که برای بازدید از محل رویداد به بندر مرزی اسلام قلعه رفته بود، با ابراز تاسف از این رویداد می گوید: «خسارات هنگفت و بیش از حد به سکتور خصوصی و تاسیسات دولتی ما وارد شد، از وسایط باقی مانده، ما توانیستم ۱۵۰۰ واسطه نقلیه را به کشور همسایه داخل کنیم، ۵۰۰ واسطه را در عقب مرز خود مصون بسازیم و حدود ۴۰۰ واسطه نقلیه را به سوی هرات بفرستیم.» وقوع آتش سوزی مدهش، تخریب و خسارات هنگفت به سکتور خصوصی (موتر دار و وارد کننده)، سکتور دولتی، مردم عامه و امور بازار رسانیده است. آتش سوزی در گمرک مرزی هرات و همچنین اعتصاب شرکت‌های حمل نقل در سراسر افغانستان باعث افزایش قیمت‌های مواد سوخت در ولایات مختلف به شمول کابل گردیده است.

**ویرانی گسترده در محل آتش سوزی در مرز ایران و افغانستان**

آژانس آسوشیتید پرس (Associated Press) روز سه شنبه ۱٦ فبروی ۲۰۲۱م مطابق ۲۸ دلو ۱۱۳۹۹هـ.ش برخی تصاویر ماهواره ای از مناطق آسیب دیده را منتشر کرد، در این تصاویر سوخته صدها تانکر سوخت و گاز طبیعی در سمت مرز افغانستان و لکه های سیاه روی زمین دیده می شوند.
به طور معمول، صدها نفتکش هنگام عبور از مرز بین دو کشور در این مکان صف می کشند و در روز حادثه نیز بیش از ۲۵۰۰ موترهای بزرگ در این منطقه موجود بوده، این در حالی میباشد که منطقه گمرک به صورت همزمان تنها برای جابجایی حدود ۷۰۰ تانکر گنجایش دارد.
سکتور خصوصی در نشست‌های مختلف و گزارشات شان به وزارت های مربوطه ادعا دارند که برای شان باید جبران خساره شوند.

**هیات بررسی کننده مجلس نماینده گان**


اعضای هیات بررسی کننده، حقیقت یاب مجلس نماینده گان و اتاق تجارت و سرمایه گذاری افغانستان که برای بررسی آتش سوزی به هرات اعزام گردیده اند، در یک نشست خبری بیان می نمایند که عمدی بودن این حادثه دور از احتمال نمی باشد، بررسی‌ها در این مورد جریان دارد. در آخرین گزارش‌ها در پیوند به این حادثه ۹ تن به شمول کارمندان موظف در گمرک اسلام قلعه مسؤل این آتش سوزی شناخته شده، و بازداشت شده اند.

**تدابیر بخاطر جلوگیری از حادثات مشابه**

با در نظرداشت حادثهء آتش سوزی اخیر در گمرک اسلام قلعه هرات ایجاب میکند، که تدابیر پیش گیرانه و احتیاطی برای جلوگیری از همچو حادثات در سایر گمرکات در آینده در نظر گرفته شود، قسمیکه نبود امکانات کافی برای اطفائیه حریق، عدم رعایت فاصله منطقی بین موترهای بزرگ و تانکرهای حامل سوخت باعث شد حادثه آتش سوزی گسترده رخ دهد و سرمایه بسیاری از تجار افغانی و ایرانی در آتش بی توجهی مسؤلان بسوزد.
تمام گمرک‌ها به شمول گمرک اسلام قلعه هرات با مشکل کمبود امکانات در تخلیه، بارگیری، طی مراحل گمرکی، ترخیص اموال و همچنان کمبود سهولت‌های زیربنای گمرکات مواجه میباشند.
خدا کند حادثه اتفاق افتاده با ضرر کمر شکن برای اقتصاد کشور و سرمایه گذاران درس عبرتی باشد، برای جهت های مربوطه، تا توجه بیشتری در ارایه خدمات و توسعه تجهیزات گمرکی داشته باشند، چون یکی از قوه های رشد و توسعه اقتصاد کشور فعال بودن مرزهای تجاری و سرمایه گذاری کشور میباشد. سکتور خصوصی که از جمله محرک های اساسی چرخ اقتصادی کشور میباشند از اثر این حادثه بی نهایت متضرر گردیده اند، دیگر ادامه برای آنها مشکل و حتی ناممکن خواهد بود. بناء پیشنهاد میگردد بعد از تثبیت خسارات وارده شرکت‌ها برای آنها جبران خساره پرداخت گردد، این امر باعث میگردد که سکتور خصوصی یکبار دیگر فعال گردد و نسبت به امور تجارت وطن دلبستگی پیدا نمایند.
در کنار آن تلاش به این صورت گیرد که، کمیته خطر سنجی حوادث غیر مترقبه با اشتراک ادارات مربوطه تشکیل گردد تا بصورت مشترک اوضاع موجود در گمرکات مورد تحلیل قرار گرفته و به مقام عالی رسانیده شود و پیگیری از اقدامات عملی آن صورت گیرد.
بدون شک این حادثه هولناک در کنار خسارات وارده بر تاجران، بیکاری و فشارهای اقتصادی برای مردم در پی خواهد داشت، اما آنچه که همه در آن اتفاق دارند، دامنه فساد گسترده در ادارات مختلف میباشد که نه تنها سبب کندکاری کار در امور میگردد بل حوادث مهیب چون گمرک اسلام قلعه را در پی خواهد داشت.
برای جلوگیری از تکرار چنین حوادث، قبل از همه نیاز است تا با فساد اداری مبارزهء جدی صورت گرفته و کار به اهل آن سپرده شود.

# راپورونه: د فراه په گمرک کې اورلگېدنې میلیونونه افغانۍ مالي زیانونه اړولي دي

د فراه سیمه‌ییز چارواکي وایي، چې د دغه ولایت په گمرک کې لگېدلی اور مړ شوی او میلیونه افغانۍ زیانونه یې اړولي دي.
چارواکي وایي چې اور پرون له غرمې مخکې د ابو نصر فراهي په بندر کې ولگېد چې څو ساعتونه یې دوام وکړ. د فراه والي‌تاج محمد جاهد وایي، چې اور د سونگ موادو درې زېرمې او د سوداگرو دوه ټانکرونه سوځولي دي.
جاهد زیاته کړې، چې د اور د کابو کولو لپاره د ایران له خراسان ولایت څخه اطفایي راغلي وې او د هغوی په مرسته یې دا اور مړ کړ. نوموړي ویلي چې د دغې



پېښې د علت معلومولو په خاطر یې لوړ پوړی پلاوی ټاکلی دی.
د هغه په وینا، په دې اورلگېدنه کې چاته مرگ ژوبله نه ده اوښتې، خو سوداگرو ته یکې درانه مالي زیانونه اوښتي چې د والي په وینا، یې لا دقیق ارقام معلوم نه دي.
د فراه والي دغه راز زیاته کړې چې د اور مړه کولو لپاره یې کافي امکانات نه لرل او له همدې کبله یې له ایران څخه د مرستې غوښتنه کړې وه.
د اور له لگېدو سملاسي وروسته د چارواکو په خبره، د افغان سوداگرو موټرونه نورو سیمو ته انتقال شول او د فراه گمرک تاسیساتو ته هېڅ زیان نه دی رسېدلی.
پر همدې مهال د فراه د ولایتي شورا غړي داد الله قانع ویلي، چې اور ډېر پېچلی و او ښایي افغان سوداگرو ته میلیونونه افغانۍ زیان رسېدلی وي.
دا په داسې حال کې ده چې شاوخوا درې اونۍ مخکې د هرات د اسلام قلعې په گمرک کې هم اورلگېدلی و، چې له امله یې سلگونه موټرونه وسوځېدل.

# د امریکایانو لخوا د حکومت د نوي موډل طرحه

حبیب میوند

که څه هم د ولسمشر غني لخوا د موقت حکومت په مقابل کې کلک سنگر نیول شوی، چې تر ډېره یې مقاومت نتیجه هم ورکړې او د موقت حکومت په مخ کې بلا ډېر خنډونه راپیدا شوي؛ خو د امریکا لخوا ولسمشر غني او افغان سیاسیونو ته د یو بل موډل طرحه وړاندې شوې، چې تر ډېره حده یې د تطبیق امکانات هم لیدل کیږي.

دغه نوی پلان د انتقالي حکومت طرحه ده چې د ولسمشر غني په گډون، تقریباً د ټولو مطرحو لوریو او شخصیتونو ځای او بقاء پکې تضمین شوې ده.

په نوې طرحه کې د حکومت غوښتنه برخه طالبانو ته منل شوې ده، چې طالبان هم تقریباً د پټې خولې اقرار په مفهوم کې معلومیږي.

د امریکا ځانگړی استازی زلمی خلیلزاد او ورسره مل امریکایي پلاوی د یادې طرحې د تطبیق په موخه لابي کوي، چې داخل یې چلند هم د نورو وارونو په نسبت متفاوت او جدي دی.

زلمی خلیلزاد په هره لیدنه کې په ټینگار سره وایي چې د جوبایډن په مشرۍ د امریکا نوې اداره د افغان سولې په تړاو د اوږده انتظار حوصله نه لري او غواړي چې دغه کار بیخي ژر او حتی د دوو دریو میاشتو په موده کې بشپړ او یو نوی انتقالي حکومت رامنځ ته شي.

د ښاغلي خلیلزاد په وینا، امریکا د افغان حکومت او طالبانو تر منځ مذاکراتو ته اوږد انتظار وکړ؛ خو دوی کومې پایلې ته ونه رسېدل، نو اوس امریکا هوډ کړی دی چې باید د افغان قضیې پر دخیلو لوریو په فشار راوړلو سره د قضیې پای ته ورسیږي.

تازه او مؤثق معلومات وایي چې ډېر ژر به د ملگرو ملتونو په مشرۍ په کوم مناسب هیواد کې د بُن په څېر یوه بله ستره غونډه جوړه شي، چې هلته به د نوي حکومت پر تشکیل هم د خیر دعا وشي او له هماغه ځایه به راکاپې او افغانستان کې پیسټ شي.

په نوې طرحه کې به ولسمشر غني د خپلې قانوني مودې تر پوره کولو پر خپل ځای پاتې وي؛ خو واک او صلاحیت به یې محدود او شتون به یې تقریباً سمبولیک وي.

د انتقالي حکومت مشر به بې تاجه پادشاه وي، خو واک به یې تر ولسمشر ډېر او صلاحیتونه به یې لوړ وي.

د موقت حکومت د مشرتابه لپاره ډېرو ښاغلو ډېر وخت کمپاین کړی و او بې دریغه لگښتونه یې هم کړي وو؛ خو داسې ښکاري لکه چې له ټولو څخه په اوبو لاهو شوی دی.

د انتقالي حکومت مشرتوب ته هم ډېرو ښاغلو بریتونه غوړ کړي او په ډېر گړندي کمپاین یې پیل کړی دی؛ خو د زلمي خلیلزاد له ملاقاتونو او ناستو پاستو ځینو داسې استنباط کړې چې چانس به د هغه چا ډېر وي، چې طالبانو ورسره لاس پټ کړی وي.

په ډېر احتمال د راتلونکو ورځو مهم لوبغاړي به پخوانی ولسمشر حامد کرزی، پخوانی طالب چارواکی ملا آغاجان معتصم، ډاکټر عبدالله، گلبدین حکمتیار او استاد سیاف وي.

د پنځو واړو ښاغلو حجرو کې نن سبا تر بل هر وخت ډېر بیروبار لیدل کیږي او ډېری سیاستوال یې د توجو د جلب لپاره روزانه حاضري لگوي.

د شنونکو په باور، د راتلونکي حکومت شکل به د بُن د موډل په څېر نه وي چې محدودې ډلې او شخصیتونه پکې مطرح او ونازول شول؛ بلکې دا ځل به تشکیل ډېر پراخ او تر ډېره بریده به ټول افغان شموله وي.

امریکا او نړیواله ټولنه داخل ژمنتیا ښیي چې باید ټول افغانان او ټول سیاسي لوري په راتلونکي سیسټم کې ځان ووینې.

که څه هم تر اوسه هېڅا او هیڅ لوري ته هیڅ کوم مشخص مقام نه دی په گوته شوی او نه ورته ویل شوي چې راتلونکي حکومت کې به څومره ستا او څومره د پلان وي؛ خو له نښو نښانو داسې اټکل کیږي چې د انتقالي حکومت د مشر په انتخاب کې به ډېر غوږ د طالبانو خبرې ته نیول کیږي.

ښایي د طالبانو د برحاله مشرانو له ډلې څخه به د کوم یوه ټاکل د ډېرو لپاره د منلو وړ نه وي او په همدې دلیل طالبان هم شاید ډېر ټینگار ونه کړي؛ خو د پخوانیو طالب چارواکو آپشن بیا دغې ستونزې ته یوه ښه د حل لاره ده.

د طالبانو د ډلې پخوانی مشر مولوي آغاجان معتصم د انتقالي حکومت د مشرتابه لپاره د نورو په نسبت یو څو پوائنټه اضافه لري او په غالب احتمال چې چانس به یې هم تر نورو ډېر وي.

د نوموړي له گرماگرم فعالیتونو او بوختیاوو څخه جوتیږي چې سړی دغه پروسه کې تر ډېره حده مخته تللی دی او ښایي له ډېرو چینلونو سره تفاهم ته رسیدلی هم وي.

طالبان به هڅه وکړي چې د انتقالي دورې له خپل مؤثر او قوي حضور څخه د انتخابي حکومت لپاره گټه پورته کړي او ټاکنو کې هم خپل حضور تر نورو ځواکمن ثابت کړي.

په انتقالي دوره کې به طالبان د کلیو او ولسوالیو په کچه سر له اوسه لا د راتلونکي لپاره په کمپاین پیل وکړي او د مساجدو د ملا امامانو له منبر او ادرس څخه به د خلکو د ذهنیت په تسخیر کې کار واخلي.

طالبان کولی شي چې په دغه تاکتیک د ټاکنو وېش کې خپله پله تر نورو ډېره درنه او بالاخره له یوې داسې لارې واک ته ورسیږي، چې نړیوالو ته هم د منلو وړ وي.

که څه هم ډېرو خلکو ته لاهم طالبان هماغه د نوییمې لسیزې طالبان ښکاري، خو چا چې له طالبانو سره له نږدې لیدلي او هغوی یې په سمه توگه پېژندلي، په دې باور دي چې طالبانو کې بیخي لوی بدلون او تغییر راغلی دی.

طالبانو اوس درک کړې چې واک ته د رسېدلو او په قدرت کې د پاتې کېدو لپاره باید له نړیوالو او د نړۍ له اصولو سره برابر برخورد وکړي.

# د ملي شورا پرانیسته او سوله؛

## ولسمشر: پردۍ طرحې ناکامې دي، اساسي قانون او ولسواک نظام مو سره کرښه ده



ولسمشر غني تېره ورځ د ملي شورا د اوولسمې تقنیني دورې دریېیم کال پرانیست. نوموړي په همدې مناسبت په جوړو شوو مراسمو کې یو ځل بیا وویل چې سوله یې لومړیتوب دی او په خبره یې د دې لومړیتوب لپاره افغان حکومت خپل پلان لري.

نوموړي دغه راز بیا هم ټینگار کړی چې یوازې له قانوني لارو او د ټاکنو پر مټ به واک راتلونکي ولسمشر ته سپاري. هغه د امریکا نوې طرحې ته په اشارې دا هم وویل چې له پردیو هېوادونو راغلي خیالونه او خوبونه دلته سوله نه شي راوستلی. د ولسي جرگې رییس هم له طالبانو وغوښتل چې ژر تر ژره له جگړو لاس واخلي.

ولسمشر پرون د ولسي جرگې او مشرانو جرگې یو بل تقنیني کال پرانیست. په سر کې د ولسي جرگې رییس میر رحمان رحماني د ښه راغلاست پیغام ولوست او له ولسمشر یې مننه وکړه چې پر سختو مسایلو یې له ولسي جرگې سره په سختو شرایطو کې د ستونزو حل ته متې بډ وهلې دي. د ده په وینا، ډېر وخت د حکومت او ولسي جرگې ترمنځ د نظر اختلاف موجود و او د دواړو لورو په بحثونو او هڅو حل شوی دی.

په دې غونډه کې د ولسي جرگې رییس د سولې په اړه هم څرگندونې لرلې. نوموړي پر طالبانو غږ وکړ، چې په دې حساسو شرایطو کې دې غیر عملي طرحې نه وړاندې کوي او د دوحې په مذاکراتو کې دې نرمښت وښیي. د ده په خبره: «طالبان دې داسې طرحې نه رامخ ته کوي چې هغه په تېره بیا په اوسنیو شرایطو کې د عملي کېدو وړ نه وي. دوی باید د دوحې خبرو ته ادامه ورکړي او په مذاکراتو کې دې نرمښت وښیي».

میر رحمان رحماني همدا راز وویل چې طالبان دې د ولس غږ واوري او د سولې لار دې خپله کړي. د ده په وینا، سوله د هر افغان غوښتنه ده او طالبانو ته هم په کار ده چې ژر تر ژره تاوتریخوالی کم کړي او د سولې په راتگ سره د افغانستان په تاریخ کې خپل نوم د سوله کوونکو په نامه ثبت کړي.

بلخوا ولسمشر غني بیا په لومړي سر کې پر وروستیو هدفي بریدونو وغږېد. د ده په وینا، د هېواد دښمنان د دې لپاره چې خلک پر راتلونکي بې باوره شي، هدفي بریدونه کوي، د دې هېواد پیاوړي مغزونه په نښه کوي، هغه ځوانان په نښه کوي، چې دوی د دې وطن لپاره هیلې لري او په خبره یې، دا هر څه افغانان نه شي وېرولی او د ترهگرو دغه ډول ظالمانه پلانونه به ناکامېږي. د ده په وینا: «ترهگرو په دې وروستیو کې زموږ ګڼ هېوادوال، خبریالان، مدني فعالین، ښځینه خبریالانې، سیاسي فعالین، نخبه ځوانان او مشهور شخصیتونه په نښه کړل. دوی غواړي موږ و وېروي او د راتلونکې په اړه مو ناهیلي کړي».

ولسمشر دغه راز د سولې د وروستیو مسایلو په اړه هم خبرې لرلې. ده د امریکا وروستۍ طرحې ته چې ویل کېږي زلمي خلیلزاد له ګڼو افغان سیاسیونو سره شریکه کړې، هم غبرگون درلود. ولسمشر په خپلو خبرو کې د امریکا دا طرحه یو خیال او خوب وباله او په وینا یې: «هره اداره او هر هېواد کولی شي د افغانستان په اړه خپل خوب او خیال په کاغذ ولیکي او را ولېږي. دا کار پخوا هم شوی، بیا هم کېږي او اوس هم روان دی».

نوموړي دې مسایلو ته په ځواب وویل، چې افغانان یوازې اساسي قانون ته درناوی لري او د سولې خبرې به هم د همدې قانون په رڼا کې مخ ته ځي. د ولسمشر په خبره، افغان حکومت سولې ته ژمن دی، خو داسې سوله چې هغه دلته روانه خونړۍ او پردۍ جگړه د تل لپاره ختمه کړي. د ولسمشر په خبره، سوله تدبیر غواړي او بې تدبیره او بېړنۍ سولې تل له ماتې سره مخ شوي دي. ولسمشر زیاته کړه: «زما تجربه او تاریخ ښیي، چې بې تدبیره او په بېړه د سولې رامنځته شوې هوکړې، لږ تر لږه په پنځو کلونو کې ناکامې شوې دي. دې مسئلې ثبات نه دی راوستی، بلکې د جگړو او حکومتونو د ماتېدو سبب شوې دي».

ولسمشر په خپلو خبرو کې یو ځل بیا پر طالبانو غږ وکړ، چې د سولې لار خپله کړي او په خبره یې، د جمهوریت لمن پراخه ده او طالبان کولی شي له سیاسي لارو د اساسي قانون او ولسواک نظام په رڼا کې د خلکو په رایه ځان واک ته ورسوي. هغه زیاته کړه، چې نور پر خلکو د وېرې او زور پر مټ د حکومت کولو دوره تېره شوې او د ولس غوښتنو او رایو ته باید درناوی وشي.

# د روغتیا نړیوال سازمان تازه خبرداری؛

## تدروس: د کرونا ویروس د مخنیوي لپاره د تدابیرو په نرمولو کې دې پوره احتیاط وشي




د تازه شمېرو له مخې، په نړۍ کې پر کرونا ویروس د اخته کسانو شمېر ۱۱۶ میلیونه او ۷۸۴ زره او ۲۰۷ کسانو ته رسېدلی دی.

دغه راز د یاد ویروس له کبله تر دې مهاله دوه میلیونه او ۵۹۳ زره او ۹۹۱ کسان مړه شوي او له ۹۲ میلیونو ډېر تر‌ې بېرته رغېدلي دي.

د یادو شمېرو له مخې، د امریکا متحده ایالتونه د دغه ویروس د ډېرو مثبتو پېښو او قربانیانو له اړخه د نړۍ تر ټولو مخکښ هېواد دی. د راپورونو پر بنسټ، په امریکا کې د دغه ویروس مثبتې پېښې ۲۹ میلیونه او ۵۹۴ زره او ۷۴۲ ته رسېدلې او ۵۳۵ زره او ۵۶۶ نور امریکایان ترې مړه شوي دي.

دغه راز هند د ۱۱ میلیونه او ۱۹۳ زره او ۳۷۶ میلیونه مثبتو پېښو له اړخه د نړۍ دویم، برازیل د ۱۰ میلیونه او ۸۷۱ زره او ۸۴۳ مثبتو پېښو په درلودو سره د نړۍ درېیم، روسیه د څلور میلیونه او ۳۱۲ زره او ۱۸۱ مثبتو پېښو له اړخه د نړۍ څلورم او برېټانیا د څلور میلیونه او ۲۰۷ زره او ۳۰۴ مثبتو پېښو په درلودو سره د نړۍ پنځم هغه هېواد دی چې د کرونا ویروس ډېرې پېښې پکې ثبت شوې دي.

فرانسه، هسپانیا، ایټالیا، ترکیه او جرمني بیا په ترتیب سره شپږم، اووم، اتم، نهم او لسم هغه هېوادونه دي چې د کرونا له کبله ډېر ځپل شوي دي.

بلخوا، په داسې حال کې چې په ځینو هېوادونو کې د کرونا وبا پر ضد د واکسینونو بهیر روان دی، د روغتیا نړیوال سازمان د دغه ویروس د مخنیوي لپاره د تدابیرو په نرمولو کې د احتیاط غږ کړی دی.

دا په داسې حال کې ده چې لا هم په برازیل او څو اروپايي هېوادونو کې د کرونا وبا څپه په زور کې ده او لا هم دا ویروس په گڼو هېوادونو کې د خلکو روغتیا ته جدي گواښ دی.

د روغتیا نړیوال سازمان دا خبرداری داسې مهال ورکړی، چې د امریکا په متحده ایالتونو کې د واکسینونو پروسه روانه ده او تر اوسه تر ۵۴ میلیونو ډېر امریکایان واکسین شوي دي.

په امریکا کې پر کرونا د اخته کېدو نوې پېښې هم د روان میلادي کال د پیل په پرتله راکمې شوې دي او ښارونه او ایالتونه د محدودیتونو د کمېدو په خوا روان دي.


د روغتیا د نړیوال سازمان رییس تدروس ادهانوم گیبریسېوس د برازیل وضعیت د ډېرې اندېښنې وړ بللی او د ممکنه سیمه‌ییزې څپې خبرداری یې ورکړی دی.

## د کتــاب خبـرې

# د جاسوسۍ پېښلړ
# RAW, ISI
# او د سولې وهم

◎ لیکوالان: اې. اېس دولت، اسددورانی او ادېتیا سېنها
◎ ژباړه: د اکسوس د ژباړې بورډ

### پنځمه برخه
### حساسې شېبې




د یادېو په قضیه کې چې څه زه ډېر و وېرولم، ایرانی فکتور و. دا ددې لامل شوی، چې پر پاکستان شک وشي، کله چې ملا اختر منصور په ایران کې له ځینو غونډو بېرته راګرځېده، ایرانیانو یې په موټر کې چېپ ایښی و، چې له امریکایانو سره یې د څرک په معلوملو کې مرسته وکړه.آن که دا حقیقت هم وای، ما یې په اړه خبرې نه کولې. دا کار د ایران او پاکستان په منځ کې ستونزې جوړوي.
خو د بلوچستان په اړه: په جاسوسۍ کې خلک ښکېل دي. دویم دا چې زه هر وخت احساسوم، چې موږ د هند ښکېلتیا ډېره ښیو. خو امریکایان په دې کارونو کې ډېر ښکېل دي. نور خلک هم شته، چې د لاسوهنې لپاره نور دلایل لري.
نو د دوال ګواښونه کم دي. له ده څخه په دې اړه مخکنیو لوړرتبه کمېشنرانو پوښتنې کړې وې.
دولت: ده څه ورته ویلي و؟
دورانی: دوی وایي، چې راته یې وویل چې له پاکستان سره اوس په مختلف ډول چلند نه کېږي، څه چې موږ کولی شو، هغه یې ځورول دي. دی وایي، هو، خو دا هغه وخت و، چې زه ازاد وم او په ملي امنیت کې د لومړي وزیر سلاکار نه وم. دا د هغه چا شخصي نظر دی، چې اوس په ملي امنیت کې د لومړي وزیر سلاکار دی. خو دا مناظره مهمه نه ده. مهمه دا ده چې داسې څه کېږي.
دولت: البته چې کېږي، خو تورونه دا وو، چې داسې څه له هندي قونسلګریو دباندې کېدل. لکه تا چې وویل، قونسلګرۍ د جاسوسۍ لپاره نه کارول کېږي.
دورانی: جاسوسي له ډېرو لارو کېدای شي، پرته له دې چې څرک یې معلوم شي. قونسل باید دا دریځ ولري، چې خلک د ځان په خوا را جذب کړي او له خپلو ایجنټانو سره ډوډۍ یو ځای وخوري. دی باید هوښیار او ځیرک وي، نو جاسوسان به یې نه نیول کېږي.
یو وخت مې وویل، چې که هند په بلوچستان کې هېڅ هم نه کوي، نو RAW ته به مې مسلکي احترام ختم شي.
سېنها: تاسو وویل لکه کشمیر؟
دولت: هو کشمیر. دا مې لومړی ځل له یوه پاکستاني ډیپلومات او افغان کارپوه رستم شاه مهمند څخه واورېدل، ده په یوه غونډه کې ټول ددې جملې په ویلو هیښ کړل چې مخکې له دې چې پاکستان په کشمیر کې پر هند تورونه ولګوي، لومړی باید خپل کور په بلوچستان کې جوړ کړي. جنرال صېب هم همدا خبرې په نازک حالت کې کړې دي. دا چې بلوڅ ځوانان د خپلو ورکو شویو ځوانانو په اړه غږېږي، جدي مسئله ده او داسې ده لکه کشمیریان چې باندنیو کنفرانسونو ته ځي او ورته وایي، چې زموږ ۷۰۰۰ کسان تښتول شوي دي. ښایي په شمېر کې یې مبالغه شوې وي، خو ته نشې ویلی، چې دروغ دي.
هماغسې چې جنرال صېب وایي، امریکایان او نور کسان لاسوهنې کوي، خپل دلایل لري. د هند او پاکستان په اړیکو کې لومړنی کار پر هند تورونه لګول دي. ویل کېږي چې تاسو خپله په بلوچستان کې بې ځایه لاسوهنې کوئ. له پنځو شپږو کلونو راهیسې همدا کیسې اورم.
دورانی: جندالله سني ډله ده، چې په بلوچستان کې یې شیعه ګان تر برید لاندې راوستل. ددې ډلې ملاتړ متحدو ایالتونو کاوه، څو د ایران په سیستان کې ګډوډۍ رامنځته کړي. ددې کار کرېډېټ داسې چاته ورکوم، چې تر شیطان هم بدتر دی، ځکه چې هېواد یې را خراب کړ، دا سړی زرداري دی. د ده په وخت کې، یا د ده د شیعه‌والي په وجه او یا د کوم بل دلیل له مخې پاکستان او ایران ګډ عملیات پیل کړل. عبدالمالک ریګي ونیول شو او اعدام شو او ډېر خلک ارام کړای شول.
دولت: له دې کاره د امریکا موخه څه وه؟
دورانی: لومړۍ موخه یې ایران وه. دویمه موخه یې دا وه، چې که بلوچستان ناامنه وي، په سیمه کې یې خپل پوځي حضور ته یو دلیل پاتې کېږي.
که همدا ځای ناامنه وي متحد ایالتونه «نوې لویه لوبه» په ډېره ښه توګه پیلولی او خرابولی شي. دلته یې په مرکزي اسیا او افغانستان کې طبیعي ذخیرو ته اړولي دي. د افغانستان تر ځمکې لاندې ذخیرو ارزښت په تریلیونونو ډالرو ښودل شوی دی. بلوچستان هم د همدې موخې لپاره کارول کېدای شي.
امریکا، چین، روسیه او ټول هېوادونه په همدې ساحه کې ګټې لري. د امریکا د حضور بل دلیل دا دی، چې دلته خپل دښمنان ختمولی شي. امریکا ایران ته د دښمن په سترګه ګوري او د ایران او پاکستان پر نللیکه اوس هم نیوکه لري. په نللیکه ډېر مخالفتونه دي: ځینې پیسې غواړي، ځینې د شیعه ګانو په اړه غږېږي، خو اصلي موخه یې زموږ د ګټو خرابول او کله، کله زموږ ځورول دي.
امریکایان په دې نه دي مشهور چې کارونه په پټه او په غلا کوي. دوی خلکو ته رشوت او وسلې ورکوي، دا کار یې په افغانستان کې آن د شوروي له وتلو وروسته وکړ. بلوچستان او منځنی ختیځ کې یې هم وکړ.
**دوام لري...**

# هریوا د لوړو زده کړو موسسه

حمیدالله حمیدي




هریـوا د لـوړو زده کــړو موسســه چــې پـه هـرات ولایـت کـې موقعیـت لـري، د ۱۳۹۳ کال پـه ثـور میاشـت کـې یـې پـر فعالیـت پیـل وکـړ او د لومـړي ځـل لپـاره یـې د کانکـور ازموینـې لـه لارې محصلیـن جـذب کـړل. د هریـوا د لـوړو زده کــړو موسســې د مــشر او بنســټګر پـه وینـا، یـادې موسسـې د لومـړي ځـل لپـاره د دوو پوهنځیـو، سـتوماتولوژي او کمپیوټـر سـاینس پـه چـوکاټ کـې خپـل فعالیـت پیـل کـړ، چـې پـه ۱۳۹۳ کال کـې یـې وکـولای شـول د حقوقـو او سـیاسي علومـو پوهنځـی هـم رامنځتـه کـړي. د یــادې موسســې د مــشر پــه وینــا، د هریـوا د لـوړو زده کـړو موسسـې هــر پوهنځــی دوه ډیپارټمنټونــه لــري. سـتوماتولوژي پوهنځـی د پـارا کلینیـک او کلینیــک ډیپارټمنټونــه او حقوقــو او ســیاسي علومــو پوهنځــی یــې د قضــا او څارنوالــۍ، او اداري او ډیپلوماســۍ ډیپارټمنټونـه لـري او کمپیوټـر سـاینس پوهنځـي یـې د سـافټوېر انجنیرېنـګ او نېټـورک ډیپارټمنټونـه لـري.
د هریـوا د لـوړو زده کـړو موسسـې مـشر زیاتـوي، یـاده موسسـه اوسمهال ۱۸۰۰ برحالـه محصلیـن لـري چـې لـه دې ډلـې یـې لـه ۴۸ تـر ۴۹ سـلنه ښـځینه محصلینـې دي او پاتـې نـور یـې نارینـه محصلیـن تشـکیلوي.
د هریــوا د لــوړو زړه کــړو موسســې بنسـټګر لـه لـوړو زده کـړو وزارت څخـه پـه ګیلـې وویـل، کـه څـه هـم د هـرات ولایــت د لــوړو زده کــړو موسســو د ماسـټرۍ پروګـرام لپـاره د اړتیـا وړ ټـول ظرفیتونـه او شرایط پـوره کـړي دي، خـو لا هـم دوی د ماسـټرۍ پروګـرام نـه لـري او د هریـوا د لـوړو زده کـړو پـه ګـډون نـورو خصوصي پوهنتونونو او د لـوړو زده کـړو موسسـو تـه د ماسـټرۍ پروګـرام د درلودلـو جـواز نـه دی ورکـړل شـوی.
د هریــوا د لــوړو زده کــړو موسســې بنسـټګر همـدا راز وویـل، دوی تـر دې دمـه لـه خپلـو دریـو واړو پوهنځیـو څخـه پـه دوو دورو کـې شـاوخوا ۳۵۰ محصلیـن فـارغ او ټولنـې تـه یـې د خدمـت پـه موخـه وړانـدې کـړي دي.
د یـادې موسسـې مـشر زیاتـوي، دوی هـر کال لـه ۴۰۰ تـر ۵۰۰ پـورې نـوي محصلیـن جذبـوي، دا شـمېره پـه هغـه صـورت کـې ده چـې ځینـې محصلیـن د سمیسـتر د درسـونو پـه جریـان کـې نوملیکنـه کـوي او د ځینـو مـالي او اقتصادي سـتونزو پر اساس د سمیسـتر لـه پیـل پـه درسـونو کـې برخـه نـه شي اخیسـتلای. هغـه زیاتـه کـړه، دوی پـه ټولـه کـې د کانکور ازموینـې لـه لارې له ۳۰۰ تـر ۳۵۰ پـورې محصلیـن جذبـوي او د سمیسـتر پـه لـړ کـې د نوملیکنـې کوونکـو محصلینـو پـه ګـډون یـې شمېر تـر ۵۰۰ تنـو پـورې رسـېږي.
د هریـوا د لـوړو زده کـړو موسسـې مشر همـدا راز وویـل، دوی خپلـو محصلینـو تـه ځانګـړی تخفیـف وړانـدې کـوي، د هغـه پـه وینـا، دوی لـه ځینـو بنسـټونو سره تفاهم‌لیکونـه لاسـلیک کـړي دي، چــې د هغــوی لــه لارې ورتــه اړمــن محصلیــن ور پېژنــدل کېــږي او د هــر سمیسـتر د فیـس د ورکـړې پـه مهـال ورتـه تخفیـف ورکـوي. دویمـه ډلـه هغـه محصلیــن دي چــې مــالي او اقتصــادي سـتونزې لـري او نـشي کـولای چـې خپلـو لـوړو زده کـړو تـه دوام ورکـړي.
هریــوا د لــوړو زده کــړو موسســه دوی تـه هـم ځانګـړی تخفیـف پـه پـام کـې نیولـی او پـه پـام وړ تخفیـف سره یـې د لـوړو زده کـړو لپـاره جذبـوي.
هغـه زیاتـه کـړه، دوی د ورځـې پـه دوو ټایمونـو کـې درسي چـارې پـر مـخ بیایـي، یـوه ډلـه محصلیـن یـې پـه سـهارنۍ دوره کـې یانـې لـه شـپږو تـر لسـو بجـو خپلـو درسـونو تـه حاضرېـږي او د ماښـامنۍ دورې محصلیـن یـې لـه څلورو بجـو څخـه بیـا تـر ماښامه خپلـې درسي چـارې پـر مـخ بیایـي.
د هریـوا د لـوړو زده کـړو موسسـې مشر وویـل، دوی پـه موسسـه کـې دننـه یـو لــوی کتابتــون لــري چــې د دریــو واړو پوهنځیـو محصلیـن د خپلـو اړتیـا وړ مالوماتـو د تـر لاسـه کولـو او مطالعـې لپـاره د ټـاکل شـوو آیـډي کارتونـو پـه لرلـو سره مراجعـه ورتـه کـوي. لـه دې سربېـره هـر پوهنځـی یـو بېـل او اختصـاصي کتابتـون هـم لـري چـې د هغـوی د درسي نصـاب اړونـد کتابونـه پکـې دي او د همغـه پوهنځـي محصلین کـولای شي پـه اسانۍ سره خپـل د اړتیا وړ مالومـات تـرې تـر لاسـه کـړي.
هغـه همـدا راز وویـل، دوی پـه هېـواد کـې دننـه او لـه هېـواده د بانـدې لـه ځینـو علمـي مرکزونـو او پوهنتونونـو سره نېکـې او اکاډمیکـې اړیکـې لـري او لـه هغـوی سره یـې ډېـر علمـي تفاهم‌لیکونـه لاسـلیک کـړي دي، چـې پـر اسـاس یـې محصلینـو تـه د ډېـرو علمي سمینارونو، سـفرونو او ورکشـاپونو زمینـه برابـره کـړې ده. لـه دې سربېـره، لـه هېـواده د بانـدې یـې هـم لـه ځینـو پوهنتونونـو سره خـبرې کـړې دي او پـه نـږدې راتلونکـې کـې بـه د خپلـو علمـي اړیکـو د پیاوړتیـا پـه موخـه تفاهم‌لیکونـه لاسـلیک کـړي.
د هغـه پـه وینـا، هریـوا د لـوړو زده کـړو موسسـې خپلـو فـارغ شـوو محصلینـو تـه پـه لـوړو زده کـړو وزارت کـې ثبت او راجسـتر شـوي اسـناد ورکـړي دي، چـې لـه دې ډلـې یـې لومـړۍ فـارغ شـوې دورې خپـل اسـناد تـر لاسـه کـړي او پاتـې نـورو تـه یـې د توضېـح او ورکـړې پـه حـال کـې دي.
د یـادې موسسـې مـشر زیاتـوي، دوی د خپلـو محصلینـو د علمـي سـویې د لـوړاوي پـه موخـه ځینـې اسـانتیاوې پـه پـام کـې لـري. د بېلګـې پـه توګـه، د حقوقـو او سـیاسي علومـو پوهنځـي محصلینـو لپـاره تمثیلـي محکمـې او حقوقـي سـمینارونه لـري.
د سـتوماتولوژي پوهنځـي لپـاره یـو مجهـز او کـدري روغتـون لـري، څـو محصلیـن وکـولای شي خپـل سـتاژ او عملـي زده کـړې پکـې پـر مـخ بوځـي او د کمپیوټرسـاینس پوهنځـي لپـاره یـو مجهـز کمپیوټرلـب هـم لـري، چـې لـه ډېـر سرعـت لرونکـي انټرنېـټ څخـه برخمـن دی او محصلیـن کـولای شي د خپلـې علمـي پانګـې د لا بډاینـې لپـاره تـرې کار واخـلي.
د هریـوا د لـوړو زده کـړو موسسـې مـشر وایـي، کـه څـه هـم د لـوړو زده کـړو خصوصي موسسـې لـه ځینـو سـتونزو او نیمګړتیـاوو سره مـخ دي او پـه تـړاو یـې څـو څـو ځلـه لـه مرکـزي او سـیمه ییـز حکومـت څخـه د حللارو غوښـتنه کـړې ده، خـو بیـا یـې هـم د پـام وړ ځـواب نـه دی تـر لاسـه کـړی. هغـه وایـي، سره لـه دې چـې د لـوړو زده کـړو وزارت لخـوا ورتـه ډېـره پاملرنـه نـه کېـږي، خـو دوی د پوهنتـون د لا بډاینـې لپـاره ځینـې پلانونـه لـري چـې لـه هغـې ډلـې یـې د یـوه غـوره او پـر معیارونـو برابـر پوهنتـون رامنځتـه کـول دي، چـې کـه چېـرې دولـت ورسره لـه مـادي مرستو سربېـره معنـوي مرستـې هـم وکـړي، کـولای شي خپلـو دغـو موخـو تـه ورسـېږي.
د نومـوړي پـه وینـا، دوی لـه دولـت څخـه غـواړي چـې خصوصي پوهنتونونـو تـه دې ځانګـړې ځمکـه پـه پـام کـې ونیـول شي څـو د لـوړو زده کـړو موسسـې او خصـوصي پوهنتونونـه لـه دې اړخـه پـر ځـان بسـیا شي. هغـه وایـي، پـه هـر ولایـت کـې پـه زیاتـه کچـه دولتـي ځمکـې شـته چـې کـه چېـرې یـادو پوهنتونونـو تـه پـه واک کـې ورکـړل شي، دوی کـولای شي پـه پـوره لېوالتیـا او ډاډ سره لا ډېـره پانګونـه وکـړي او هېوادوالـو تـه د خدمـت کولـو جوګـه وګرځـي. هغـه وایـي چـې ډېـری خصـوصي پوهنتونونـه د خپلـو درسي چـارو د پـر مـخ بېولـو لپـاره ودانـۍ پـه کرایـه نیـسي، لـه همـدې املـه لـه دولـت څخـه غوښـتنه کـوي چـې یـادو پوهنتونونـو تـه د ځمکـو د ورکـړې پـه برخـه کـې پاملرنـه وکـړي. نومـوړی زیاتـوي، لـه ۱۳۹۳ کال راپدېخـوا د خصـوصي پوهنتونونـو پراختیایـي او ارتقایـي برخـه پـه ټپـه دربدلـې ده او لـه همـدې کال راهیسـې د ولسـمشر د فرمـان پـر اسـاس، پوهنتونونـو تـه د نـوو پوهنځیـو د تشـکیل او ارتقـاع جـواز نـه ورکـول کېـږي.

اقتصاد

## د اسعارو بیې

| | |
|---|---|
| $ | ۷۷,۵ |
| € | ۹۲,۳ |
| Rp. | ٤٨٦ |
| ₹ | ۱۰٦٥ |
| ¥ | ۱۱ |
| £ | ۱۰٦,۲ |

## بیړنۍ شمیرې

پولیس
119 - 100

امبولانس
112

اتاترک روغتون
0202500312

ملالۍ زیږنتون
0202201377

وزیر محمد اکبر خان روغتون
0202301360

رابعه بلخي روغتون
0202100439

د کرونا روغتیایي مرکز
166

همیانی

# آیا رژیم میوه برای سلامتی خطرناک است؟

**مینا بردبار**

میوه‌ها بسیار مغذی‌اند و حاوی فیبر و مواد مهمی مثل ویتامین سی، فولات (فولیک اسید) و پتاشیم هستند؛ کالری کمی دارند و بخش مهمی از برنامه‌ی غذایی روزانه هستند. اگر مقدار بیشتری از این مواد مغذی دریافت کنید، احتمال ابتلا به بیماری‌های قلبی، فشار خون بالا، مشکلات گوارشی، مشکلات بینایی و سرطان کاهش می‌یابد. با این حال، میوه‌ها و سبزیجات همه‌ی مواد مورد نیاز بدن را ندارند و رژیم میوه برای مدتی طولانی، رژیم کاملی نیست. قبل از اینکه چنین رژیمی را شروع کنید با پزشک خود مشورت کنید تا مطمئن شوید چنین رژیمی به سلامتی شما آسیب نمی‌زند.
طبق نتایج تحقیقی در سال ۲۰۰۸، افزایش مصرف میوه می‌تواند به کاهش وزن شما کمک کند؛ اما این تأثیر چندان زیاد نیست. در این تحقیق افزایش هر ۱.۵ واحد مصرف روزانه‌ی میوه در یک دوره‌ی شش ماهه حدود نیم کیلوگرام به کاهش وزن کمک کرد. بعضی میوه‌ها نسبت به بقیه تأثیر بیشتری بر کاهش وزن دارند. تحقیقی که در سال ۲۰۱۵ در مجله‌ی پزشکی PLOS به چاپ رسید، نشان داده است که به طور کلی اضافه کردن هر وعده مصرف میوه در یک دوره‌ی چهار ساله به اندازه‌ی حدود ۲۰۰ گرام به کاهش وزن کمک می‌کند. هر وعده‌ی اضافی از میوه‌های گروه توت، سیب و گلابی بیش از نیم کیلوگرام در همان مدت زمان به کاهش وزن کمک کردند. با این حال، میوه‌های خانواده‌ی توت هم از نظر مواد مغذی و هم از لحاظ کمک به کاهش وزن انتخاب بهتری هستند.
میوه‌ها کالری کمی دارند و جایگزین کردن آنها با غذاهای سنگین‌تر و پرانرژی‌تر می‌تواند به کاهش وزن شما کمک کند. مثلا، می‌توانید به جای مصرف بستنی، از میوه استفاده کنید یا موقع صبحانه، بخشی از کیک و یا غلات صبحانه را با میوه جایگزین کنید. این که فقط میوه را به غذای معمول‌تان اضافه کنید، کمکی به لاغر شدن شما نمی‌کند و فقط کالری مصرفی‌تان را بالا می‌برد.
قند موجود در میوه‌ها می‌تواند رژیم میوه را برای کسانی که مبتلا به بیماری دیابت هستند و باید کاربوهایدریت مصرفی‌شان را کنترل کنند، خطرناک کند. مثلا، یک چهارم پیمانه کشمش حدوداً شامل ۳۳ گرام کاربوهایدریت است که ۲۵ گرام آن حاصل از قند است. یک پیمانه پوره‌ی موز ۵۱ گرام کاربوهایدریت دارد که ۲ گرام آن از قند است. یک پیمانه هندوانه حدود ۱۰ گرام و یک پیمانه برش سیب حدوداً ۱۰ تا ۱۳ گرام قند دارد. مصرف میوه به عنوان تنها منبع کالری روزانه به این معناست که بدن ما مقدار زیادی قند و کاربوهایدریت دریافت می‌کند. نمونه‌هایی از میوه‌هایی که قند کمتری دارند میوه‌ی ستاره‌ای و تمشک با ۵ گرام قند در هر پیمانه هستند. سایر میوه‌های خانواده‌ی توت هم قند و کاربوهایدریت نسبتاً کمی دارند.
بعضی افراد هم برای هضم بعضی انواع شکر مثل فروکتوز یا قندهای الکلی موجود در میوه‌ها دچار مشکل می‌شوند. یکی از تحقیقات اخیر نشان داده است که با وجود این که همه‌ی داوطلبان سالم می‌توانستند ۱۵ گرام فروکتوز را بدون هیچ مشکلی هضم کنند، تنها ۲۰ تا ۳۰ درصد از داوطلبان توانستند ۵۰ گرام فروکتوز را بدون بروز عوارض روده هضم کنند. این عوارض شامل اسهال، نفخ و دردهای شکمی است. آبمیوه، مربا، میوه‌های خشک و کمپوت‌های میوه دارای مقدار زیادی فروکتوز هستند. در میان میوه‌های تازه سیب، گیلاس، کیوی، هندوانه و انگور هم با میزان حدود ۴ تا ۷ گرام در هر صد گرام دارای بیشترین مقدار فروکتوز هستند. علاوه بر فروکتوز، قندهایی که ماهیت الکلی دارند و در میوه‌هایی نظیر هندوانه یافت می‌شوند، نیز در صورتی که بیش از حد مصرف شوند می‌توانند باعث عوارضی در معده شوند. در کل مصرف طولانی مدت میوه به تنهایی و به عنوان غذا برای بعضی افراد می‌تواند باعث مشکلاتی شود.

**افزایش فیبر در رژیم غذایی روزانه**

میوه‌ها و سبزیجات از بهترین منابع فیبر هستند. پس اگر از برنامه‌ی غذایی معمول‌تان به رژیم میوه و سبزیجات، روی بیاورید مقدار فیبر دریافتی شما ناگهان به میزان قابل‌توجهی افزایش می‌یابد. این تغییر ناگهانی ممکن است بر بدن شما تأثیر بگذارد و شما را دچار اسهال یا مشکلات گوارشی دیگر کند. بهتر است افزایش مصرف فیبر به تدریج اتفاق بیفتد. در حین چنین رژیمی آب زیادی مصرف کنید تا گازهای معده و یبوست حاصل از فیبر بالای این نوع رژیم را به حداقل برسانید. مقادیر بالای فیبر همچنین می‌تواند بر جذب بعضی مواد مغذی تأثیر منفی بگذارد و باعث اختلال در جذب بعضی داروها شود. پس قبل از این که به‌طور ناگهانی مقدار زیادی فیبر به برنامه‌ی غذایی‌تان اضافه کنید با پزشک‌تان مشورت کنید.

**اثرات بلند مدت رژیم میوه**

رژیم میوه و سبزیجات را به مدت طولانی ادامه ندهید. با وجود این که چنین رژیمی در مدت دو هفته کمبود قابل ملاحظه‌ای در بدن ایجاد نمی‌کند، اما میوه‌ها و سبزیجات فاقد مقدار کافی پروتین، چربی‌های ضروری امگا۳ و امگا٦، ویتامین D، ویتامین‌های گروه B روی، آهن، کلسیم، کروم، مس، یُد، منگنیز، مولیبدنوم، فاسفر و سلنیوم هستند. شما برای حفظ سلامتی مغز، چشم‌ها، پوست و همچنین حفظ تعادل هورمون‌های بدن به میزان کافی از چربی‌های ضروری احتیاج دارید.
عدم دریافت پروتین کافی، حتی در کوتاه‌مدت می‌تواند پیامدهایی جدی به دنبال داشته باشد. کمبود پروتین می‌تواند باعث از دست دادن ماهیچه‌ها شود، ترمیم زخم‌ها را سخت‌تر و احتمال مریض شدن شما را بیشتر کند. همچنین ممکن است باعث گیجی، اختلالات گوارشی و مشکلات پوست و مو شود. کمبودهای دیگر حاصل از رژیم فقط میوه و سبزیجات می‌تواند بر پوست، مو، استخوان‌ها، سطح هورمون‌ها و خون تأثیر بگذارد.

**بررسی کالری‌های مصرفی**

میوه‌ها می‌توانند در یک رژیم کاهش وزن سالم نقش مهمی داشته باشند، چون میوه‌ها معده را پر می‌کنند. مصرف میوه به جای غذاهای دیگری که حجم کمتری در معده اشغال می‌کنند می‌تواند کم کردن کالری‌های مصرفی و کاهش وزن را راحت‌تر کند. یک وعده میوه بین ۴۰ تا ۱۲۰ کالری انرژی دارد. در این بازه توت‌فرنگی و میوه‌ی ستاره‌ای کمترین و کشمش، خرما، موز و خرمالو بیشترین مقدار کالری را دارند. به هر حال، یک رژیم میوه ممکن است برای تأمین همه‌ی کالری‌های مورد نیاز برای سوخت و ساز بدن شما کافی نباشد.
برای کاهش هر نیم کیلو از وزن‌تان باید ۳۵۰۰ کالری از کالری مصرفی‌تان کم کنید، پس اگر روزانه حدود ۵۰۰ کالری کمتر مصرف کنید در عرض یک هفته می‌توانید نیم کیلو وزن کم کنید. برای زنان روزانه کمتر از ۱۲۰۰ کالری و برای مردان روزانه کمتر از ۱۸۰۰ کالری مصرف کردن، فرد را در خطر کاهش متابولیزم قرار می‌دهد. در این صورت بیشتر احتمال دارد که فرد بعد از رژیم به وزن قبلی‌اش برگردد. همچنین در طولانی مدت می‌تواند خطر مشکلات قلبی، پوکی استخوان و بیماری‌های دیگر را افزایش دهد. اگر قصد دارید چنین رژیمی را امتحان کنید باید همچنین بدانید که کاهش متابولیزم، خودش وزن کم کردن را سخت‌تر می‌کند. دریافت نکردن کالری کافی همچنین می‌تواند باعث سردرد، سرگیجه، کوفتگی، اختلالات حسی و یا غش شود.
سالم‌ترین راه برای کاهش وزن این است که یک برنامه‌ی متعادل شامل انواع غذا، به ویژه غذاهای کامل مثل میوه‌ها، سبزیجات، لبنیات، چربی‌های سالم، غلات کامل و غذاهای سرشار از پروتین داشته باشیم و همزمان مصرف غذاهای فرآوری شده، چرب و شیرین را محدود کنیم. برای رسیدن به بهترین نتیجه هفته‌ای حدود ۳۰۰ دقیقه ورزش‌های محرک دستگاه گردش خون و دو نوع تمرین قدرتی را هم در برنامه‌تان بگنجانید. ورزش‌های مربوط به دستگاه گردش خون به سوزاندن کالری کمک می‌کند و تمرین‌های قدرتی باعث ماهیچه‌سازی می‌شود که هر دو این موارد به کاهش وزن کمک می‌کنند. ماهیچه‌ها حتی در هنگام استراحت کالری بیشتری نسبت به بافت چربی مصرف می‌کنند، بنابراین افزایش حجم ماهیچه‌ها به کاهش وزن کمک می‌کند. اما کم کردن کالری مصرفی بدون انجام حرکات قدرتی می‌تواند باعث شود به جای چربی، ماهیچه‌های‌تان را از دست بدهید.
رژیم میوه و سبزیجات به تنهایی نمی‌تواند همه‌ی مواد مغذی مورد نیاز شما را تأمین کند، اما اگر قصد دارید رژیمی بدون مصرف پروتین‌های حیوانی داشته باشید با یک رژیم گیاهخواری متناسب و دقیق می‌توانید به همه‌ی مواد غذایی مورد نیازتان برسید. با توجه به ترکیب دقیق رژیم غذایی‌تان احتمالاً لازم می‌شود که مکمل ویتامین B۱۲ و احتمالاً علاوه بر آن با توجه به محل زندگی‌تان و مدت زمانی که در معرض آفتاب می‌گذرانید مکمل ویتامین D مصرف کنید. مصرف تخم مرغ و لبنیات که بعضی گیاهخواران در برنامه‌شان می‌گنجانند می‌تواند پروتین کامل را تأمین کند و غذاهای دریایی علاوه بر پروتین، چربی‌های امگا۳ را هم تأمین می‌کنند.
فرقی نمی‌کند چه رژیم غذایی دارید، میوه‌ها و سبزیجات منبع مهمی برای تأمین ویتامین‌ها، مواد معدنی، فیبر و مواد شیمیایی گیاهی هستند. میوه‌ها کالری کمی دارند و سرشار از مواد مغذی هستند. دریافت مقدار بیشتری از این مواد مغذی می‌تواند باعث کاهش خطر ابتلا به بیماری‌های قلبی، فشار خون، مشکلات گوارشی، مشکلات بینایی و سرطان شود. پس مصرف مقدار کافی از آنها را در برنامه‌ی غذایی‌مان فراموش نکنیم.

# اروپايي ټولنه: په افغانستان کې روان تاوتریخوالی او هدفي وژنې د جدي اندېښنې وړ دي




د اروپايي ټولنې د پارلمان له لوري په خپرې شوې اعلامیې کې په افغانستان کې د تاوتریخوالي او هدفي بریدونو اوسنی بهیر د جدي اندېښنې وړ بلل شوی او یو ځل بیا په دغه اعلامیه کې له طالبانو د اوربند غوښتنه شوې ده.
اروپايي ټولنې ویلي په وروستیو کې په افغانستان کې د بشري حقونو فعالین، خبریالان او سیاسي څېرې په نښه کېږي، چې دا هر څه د اندېښنې وړ دي او د دې جدي اړتیا ده چې ښکېل لوري ژر تر ژره اوربند وکړي.
اروپايي ټولنې دغه راز ویلي چې په افغانستان کې د بیان د ازادۍ په څېر د تېرو شلو کلونو لاس ته راوړنې باید وساتل شي او په دې لار کې دې شته ګواښونه له منځه یووړل شي.
اروپايي ټولنه داسې مهال یادې څرګندونې کوي چې په دې وروستیو کې د د کابل په ګډون د هېواد په لویو ښارونو کې هدفي وژنې په بې ساري توګه ډېرې شوې دي. په دغو بریدونو کې تر ډېره د رسنیو کارکوونکي، حکومتي مسوولین، قومي مشران، ډاکتران، د مدني ټولنې غړي او نور ملکي او نظامي کسان په نښه کېږي. که څه هم د دغو بریدونو مسوولیت په ښکاره توګه کومې ډلې پر غاړه نه دی اخیستی، حکومت یې د طالبانو کار بولي، خو طالبانو په ځلونو په دغه ډول بریدونو کې خپل لاس لرل رد کړي دي.
تر دې وړاندې هم پر اروپايي ټولنې سربېره، امریکا، ملګرو ملتونو، ناټو او ګڼو نورو هېوادونو او سازمانونو په افغانستان کې روانې مرموزې هدفي وژنې غندلې او د جګړې پر ښکېلو غاړو یې غږ کړی چې ژر تر ژره دې د سولې روانه پروسه یوې پایلې ته ورسوي.

مسیر ورځپانه
مسوول مدیر: اسدالله وحیدي
مرستیال: شفیق امیرزی
ایډیټران: جواد تیموري او امان الله حنیفي
خبریالان: حمیدالله حمیدي، حکمت آرین او حشمت الله نوري
ګرافیک او ډیزاین: ارمان
چاپخونه: وایګل چاپ ۰۲۰۲۵۱۲٦۲٦
۰۷۸۲۹۸۹٦۹٦

maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily

Maseer
New Vision, New Journey
Daily



WAYGAL
PRINTING CO
غوره کیفیت او چټک خدمات په وایګل چاپ کې تجربه کړئ!
if You Can Think it, we Can ink it.
+93 (0) 202 51 2626, +93 (0) 782 98 9696
Dehbori Crossroads in Front of Park Kabul
waygalprinting.co
waygalprinting.co@gmail.com



یکشنبه د ۱۳۹۹ د کب ۱۷مه | د ۲۰۲۱ د مارچ اوومه | ۶۹۱یمه ګڼه

www.Maseerdaily.af twitter/MaseerDaily Facebook/MaseerDaily


| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننګرهار | خوست |
|---|---|---|---|---|---|
| ۱٤ | ۱۷ | ۱۷ | ۱٦ | ۲۳ | ۱٤ |
| ۳ | ٤ | ٦ | ۹ | ۱۲ | ٦ |

شرعي وختونه: سهار ۰٤:۵۲ | لمر ختل ۰٦:۱۹ | ماسپښین ۱۲:۰۵ | مازیګر ۰٤:۱۳ | ماښام ۰۵:۵٤ | ماخوستن ۰۷:۱۳

## نړۍ


د روغتیا نړیوال سازمان تازه خبرداری؛
تدروس: د کرونا ویروس د مخنیوي لپاره د تدابیرو په نرمولو کې دې پوره احتیاط وشي
۳

## شورای مصالحه عالی:
# عبدالله با معاون سفیر امریکا در باره آخرین تلاش‌های صلح گفت‌وگو کرد




شورای عالی مصالحه ملی تائید کرد که امریکا طرح جدیدی را برای صلح افغانستان پیشنهاد کرده است. عبدالله عبدالله، رئیس شورای عالی مصالحه ملی با مک کری، معاون سفارت امریکا در کابل طی دیداری در مورد این طرح گفت‌وگو کرده است.
طبق اعلام سپیدار، در این دیدار دو طرف درباره آخرین تلاش‌ها برای صلح، طرح پیشنهادی تازه‌ی ایالات متحده‌ی امریکا برای صلح و گام‌های بعدی این روند گفت‌وگو کرده‌اند.
دو جانب براساس اعلام سپیدار، از تسریع روند مذاکرات استقبال کردند و خواهان یافتن یک راه حل سیاسی همه‌شمول و پایان جنگ در افغانستان شده‌اند. شورای عالی مصالحه ملی جزئیات بیش‌تر درباره این طرح ارایه نکرده است.
در جریان سفر زلمی خلیل‌زاد، نماینده ویژه امریکا در امور صلح افغانستان به کابل گزارش شد که طرحی را به دولت و شماری از سیاسیون سپرده است.
در این طرح، نقشه راه ایجاد یک حکومت انتقالی پیش‌بینی شده است. این طرح که در ۱۰ صفحه به زبان انگلیسی ترتیب شده است، چندین سناریوی احتمالی را برای ایجاد حکومتی زیر نام «دولت انتقالی صلح» پیش‌بینی می کند. بر اساس این طرح قرار است یک ساختار جدید سیاسی به نام «دولت انتقالی صلح افغانستان» به میان آید که دارای «سه قوای مستقل و مساوی اجرایی، شورای ملی و مقننه که دارای دادگاه عالی و دادگاه‌های محلی» خواهد بود. بر اساس این سند «یک شورای عالی فقه اسلامی و یک کمیسیون تعدیل قانون اساسی» نیز ایجاد می‌شود.

# برګینر: امنیت شورا دې د میانمار په تړاو جدي او کوټلي ګامونه اوچت کړي

د میانمار لپاره د ملګرو ملتونو د سازمان ځانګړې استازې له امنیت شورا غوښتي، چې د میانمار په اړه متحد او چټک ګامونه پورته کړي. د ملګرو ملتونو امنیت شورا داسې مهال د میانمار په اړه بحث کړی، چې په دې وروستیو کې د دغه هېواد پوځیانو د لاریونوالو پر وړاندې له تاوتریخوالي ډک اقدامات کړي دي.
په میانمار کې له لاریونوالو سره د حکومت زور زیاتي ګڼ نړیوال غبرګونونه را پارولي دي. تر اوسه پورې په یاد هېواد کې د لاریونوالو له ډلې له۵۰ ډېر کسان وژل شوي او تر ۱۷۰۰ زیات نیول شوي دي.
د میانمار لپاره د ملګرو ملتونو ځانګړې استازې کرسټین برګینر د لسګونو ملکي لاریونوالو له وژل کېدو وروسته ویلي، چې د میانمار د پوځي حکومت دا کړنې ورته د زغملو نه دي او امنیت شورا دې په دې برخه کې کوټلي ګامونه اوچت کړي. هغې زیاته کړې چې د میانمار وضعیت د یوه خطرناک بشري ناورین پر لور روان دی. د یادونې ده چې په میانمار کې لاریونوال له څو اونیو د پوځي حکومت پر ضد راوتلي دي. پوځ د دغه هېواد مشره انګ سان سوچي د فبروري په لومړۍ بندي کړې او واک یې په خپل لاس کې اخیستی دی.


## راپورونه: په پولنډ کې د یوې ترافیکي پېښې پرمهال ۴۷ کسانو ته مرګ ژوبله اوښتې



د راپورونو له مخې، د پولنډ په ختیځ کې د یوه بس په ترافیکي پېښه کې ٦ اوکرایني وګړي مړه شوي او ۴۱ نور ټپیان شوي دي.
اوکرایني چارواکي وایي، چې دغه بس چې لسګونه اوکرایني وګړي پکې سپاره وو، د اوکراین پولې ته نږدې د پولنډ د جنوب ختیځ ښار یاروسلاو په لمنو کې یوې کندې ته لوېدلی دی چې یاده مرګ ژوبله پکې اوښتې ده.
په ورته مهال د اوکراین د بهرنیو چارو وزارت ویاند اولېه نیکولېنکو تایید کړه چې په پېښه کې وژل شوي شپږ کسان اوکرایني وګړي د، خو د پېښې د علت په اړه تر اوسه څه نه دي ویل شوي. پولنډي چارواکو زیاته کړې چې د پېښې ټپیان یې روغتون ته وړي چې د ځینو یې روغتیایي حالت د اندېښنې وړ بللی شوی دی. د یاد هېواد روغتیایي مسوولینو هم ویلي چې د پېښې له ځایه ورته شپږ جسدونه او ۴۱ ټپیان ور وړل شوي دي. دوی دغه راز زیاته کړې چې د ځینو ټپیانو وضعیت نازک دی او ښایي د مړو شمېرې نور هم لوړې شي.
د یادونې ده چې اوکرایني وګړي پولنډ ته چې د پام وړ اقتصادي وده لري، د کار لپاره ځي او د دغه هېواد د کار مهم ځواک جوړوي.


## ژوند

## د نړۍ لومړنی 18gbرم لرونکی موبایل



اسوس کمپنۍ غواړي د مارچ په ۱۰مه د روګ فون۵ په نوم نوی ځیرک موبایل خرڅلاو ته وړاندې کړي او کېدای شي ۱۸ ګېګابایټ رم ولري. دغه ځیرک موبایل د ګېمونو لپاره ډیزاین شوی او له پیاوړي پروسېسر او رم سره خرڅلاو ته وړاندې کېږي. د افشا شویو معلوماتو پر بنسټ، دغه ځیرک موبایل به د کوالکام کمپنۍ سنپ ډراګن۸۸۸ ډوله پروسېسر او ۱۲ ګېګابایټ رم سره خرڅلاو ته وړاندې شي. روګ فون۵ به ٦٫۷ انچه اېف اېچ ډي پلس ډوله مخپانه او ۱۲۸ ګېګابایټ د فایل ثبتونې وړتیا لرونکې بڼه ولري.
داسې هم ویل کېږي چې د دغه ځیرک موبایل یوه ۱٦ ګېګابایټ رم او ۲۵٦ ګېګابایټ د فایل ثبتونې وړتیا لرونکې بڼه هم ولري. دغه ځیرک موبایل کې ٦۰۰۰ ملي امپیره وړتیا لرونکې بېټرۍ ورکړل شوې او د مارچ په ۱۰مه به په مختلفو هېوادونو کې خرڅلاو ته وړاندې شي.

## صاف نیت او پاک زړه



د مهربانۍ په تر ټولو لومړني تعریف کې ویلای شو چې مهرباني هغه د زړه له اخلاصه او له رخې خالي ارزښت دی، چې نورو ته یې ورکوو. دا چې د نورو لپاره تر ټولو غوره غوښتنې او لورېینې ولرو او پر دې پوه شو چې هغوی هم همغه غوښتنې، اړتیاوې، انګېزې او ان همغه وېرې له ځان سره لري چې موږ یې لرو، باید مهربانه و اوسو. ارواپوه او فیلسوف فروچي Piero Ferrucci مهرباني د «اسانه ژوند کولو» لار بولي، ځکه مهرباني انسان د منفي فکرونو او احساساتو لکه کرکې، بد ګمانۍ او فرېب ورکولو له دام او اسارت څخه ازادوي. په خلاصه ډول ویلای شو چې مهرباني ټولو موجوداتو ته د رښتیني ارزښت ورکولو په مانا ده. د نورو پر وړاندې مهرباني او ښښنه تمرین کړئ. د مهربانۍ د مهارت نه درلودلو، خجالت کېدو او پر دې نه پوهېدلو ستونزې او نیمګړتیاوې چې څه ډول کولای شو نورو ته نږدې شو، هغه وخت رفع کېدای شي چې د دې نیمګړتیا د له منځه وړلو لپاره لاس پکار شئ او یاد مسیر ته تر هغه دوام ورکړئ چې مهرباني مو په وجود کې پر یوه نه بېلېدونکې عادت او ځانګړنه بدله شي.




د زده کونکو/زده کړیالانو جاري حساب
عزیزي بانک خوښ دی چې خپل ځانګړی محصول "د زده کونکو جاري حساب" په لاره اچولی چې د افغانستان د زده کونکو لپاره ځانګړې ډالۍ ګڼل کېږي. نوموړی حساب زده کونکو/زده کړیالانو ته د وړیا ای تي ام کارت او په کلنۍ فیس کې د ماستر ډېبټ کارت تخفیف سره چمتو شوی دی.
www.azizibank.af
1515
عزیزي بانک
Azizi Bank